**لیکوونکی** : ګراهام وانبرګن (Graham Vanbergen).
**منبع اود خپریدو نیټه** : ګلوبال ریسرچ «2018-11-11».
**ژباړونکی** : پوهندوی دوکتور سید حسا م «مل» .

---

# دګرځنده تیلیفونونو وړانګی (تشعشات) کیدای شی چي سرطا ن پیدا کړي ؟ اما بیمه کونکی شرکتونه د دی صنعت له پوښښ ځخه ا نکا ر کوی لاکن قضیه په قا نونی بڼی سره پرمخ وړل کیږي

*Radiation from Mobil phones can cause concer? Insurance underwriters refuse industry cover , legal cases underway*



***د ګا رډین یوه وروستی مقاله چې "د سرطان اوګرځنده تیلیفونونو په اړه ناورین حقیقت" بیانوی وویل چې "د سږکال د مارچ پر 28، د امریکا د متحده ایالاتو د یوه غوره ارزانه څیرنې نتیجه وموند له چې" واضح شواهد "شتون لري چې ګرځنده تلیفونونو کیدای شی چی د سرطان سبب و ګرځي ."***

مقا له په ادامه سره داسی توضیح کوی :

اوس څه کم اوزیا ت د پیړی تر ځلورم برخه پوری دی چی د دی صنعت یعنی


دګرځنده تیلیفونونو جوړونه ، خرڅلاو اودهغه پراخه کمپین یا تبلیغات دعامه روابطود تامینولو د پاره په کا ر اچول شوی دي ، چې د هغه د تبلیغا تو څخه موخه نه یوائې داچي د ژورنا لیستا نو اویا د خبرنګا رانو بی لاری کول دي ، بلکه دګرځنده تلیفونون دمشتریا نو اود استفا ده کونکو اوهم د پا لیسی جوړونکو پا م او یا نظر دهغه د مضره وړانګی دخطری دواقعی پوهیدو څخه په ناسالمو تبلیغاتو سره بی لاری کړی یا د هغو نظرته انحراف ورکړی دي. همدارنګه د بیسیم لوی شرکتونه همه همغه ورته ستراتیژی او همغه مشابه تکتیکونه د خپله کړی یا خپل ځا ن ته ځا نګړی کړي دي اود بلی خوا څخه د تمبا کو اویا د نفت غتو شرکتونه هم په دغه لاره کی لکه د خپل نور همتا یا نویا د ا نډ یوالانو په شا ن ډ یر پیشقد م دی ترڅو چې که وشی کړی چې دسګرټ څکولو له ضررونو اودهغه دخطر دپیداکیدو څخه پخپل ناسالم پروپاګندیو څخه دخلکو پام بل خواته واوړی یا هغو چی دژوند دچاپیریال اود آب وهوا دککړتیا اود ملوثٍ کیدو مسولین دی پخپلو ناروا تبلیغا توسره د خلکو پام بل خوا ته انحرا ف ورکوی – د بی سیم د صنعت دشرکتونو مدیران لکه دتنباکو اودتیلو د اجرایوی مسولو مقاماتو په شان پس له هغه نه چي دهغوی خپل ساینس پوهانو یا دعلم خاوندانو په خصوصی بنی سره هم مجبور شو چي هغوی ته خبرداری ورکړی چی د تا سو محصولات کیدای شی چی روغتیا اوسلامتیا ته مضر تما م شی اوبیا په ځا نګړی بڼی سره چي کوچنیا نو ته ډ یر ضرر رسوی .

**ګا ر د یین** (Gardian) لږ ترلږه په دی مقا له کی په اشتبا ه سره په حیرانتیا کی ښکاری یا په حیرت کی ولویږي مګردګاردین دخوروځپانه یعنی ***ابزرور***(observer) په کال (1999) کی یومقاله په نشر رسوی چي په هغه کي داسی توضیح شوی وه :

د لیویاد دبیمی لوی شرکت « د لند ن د(Lioyad) نها د ، د بریتانیا دما لي خد ما تو شرکت دی چې د انشورنس (بیموی) خد ما تو، بیا رغونه، د ژوند بیمه ، د عمر بیمه د پورونو اواودمبادلاتو داړواقو ، او د خطرونو د پیدا کیدو بیمیوی خدمات ترسره کوی د لندن لیوډ شرکت په 1688 میلادي کال کې د اډوارډ لایډ لخوا تا سیس شو او اوس په ټوله نړی کې له 2500 څخه ډیر ځا نګي لري. دهغه مرکزی دفتر په لندن کې دی. ...

...**د ویکی پیدا څخه** » د ګرځنده تلیفونونو د صنعت او یا د هغه د پکا روړلو هر ډول راپیدا شوی خطرونه په کلکه سره ردوی یا د دی تیلیفونو د خطرونو د پیداکیدو څخه انکا رکوی اوپه ډ یر بی شرمی او سپین سترګی توب سره وایي چی د دی تیلیفونو وړانګي روغتیا ته کوم خطر نه پیداکوي . اما دغه مقا له د دی بیموی شرکتونو ډار او تشویش په روښا نه بڼی سره توضیح کوی اوهغه داچي د دغه تلیفونو وړانګی د ځنو ناروغیو لکه د سرطا ن اودالزایمر د ناروغیو موجب ګرځی او یوه بل ور مطلب دادی چی د دی صنعت اویا دګرځنده تیلیفونو د لوی شرکتونو او د فا بریکو خاوندانو شل کا له دمخه هم په دی با ندی پوهیدل چی د دی تیلیفونو له وړانګی څخه خبیثه نا روغی لکه

سرطان ا و .... را پیداکیږي . اودا ځکه چي هغوی دخپل غتو پورونو د پوښښ څخه انکار کوی لکه هغسی چي **ترویپوبلیک** ( True Public = ربښتيني عا مه راټلونکی پوهاوي لپاره یو چوکاټ دی. هغه ځای چي تا سو يې یا ست، هغه څوک چي تا سو یې یا ورلرئ او وګورئ چي ستا سونظرونه د نوروسره اړیکه لري. هره رایه نوم دی.... دویکی پیدا څځه) پرون د یو راپور په توګه د **د یزال ګیټ** ( Dieselgate = د دیزل د داخلید و مد خل یا دها نه) مسول مقامات **فونګیټ** ( phongate = د ګرځنده تلیفو ن له حده زیا ت تشعشات هغه وخت چي تیلیفون د بدن سره په نژدی تم اس کی اووسی) مسولو مقا ما توته خبرداری ورکړ چي د دی صنعت راز او خبری دی ډیر پټ وسا تی لکه همغسی چي دغه ګرځنده تیلفونونه لا وراندی بیمه کونکی موسسو ته ډیر سخت اوستونزمن درسونه ورزده کړی وه نوکه تا سوچیری بیرته **ازبستوز** (دسږو التهاب دی چي دګرځنده تیلیفونو دفابریکی په کارګرانو کی را پیداکیږي ) ته پام راواړوی کوم چی پخوا دغه ستونزه چا نه پیژندل کوم چي اوس پیژندل شوی دی دکا ل (1990) په لمړیولسیزو کی د **ازبیستی** په را څرګند ید وسره د لند ن د (لیوید) د بیمی د شرکت بازا ر په ګونده شو اودامریکی متحده ایالات داسی څرګندونه وکړچي هغوی د**ازبستوز** د



ازبستوز (Asbestos)

ناروغی دراپیدا کید و له کبله یواځی (250) میلیونه دالر ضرږمونږ لی دی .

## د با زار یا د مارکیټ په سرتا سرکي :

دغه متنا قض صنعت د کلونو څخه وروسته یولړ شواهد یا نښی ا و نښا نی وښودل دفبروری په میا شت کا ل (2015) د لند ن د(لیوید) د بیمی شرکت چي په نړی کی یو له خورا ډیر لوی بیموی شرکت دی خپل موقف د دغه ګرځند وی تیلیفونو دغیر ایونزشوی تشعشا تو د مخامخ کید و په اړین په بشپړه توګه سره روښا نه کړ یعنی د دی سوال په ځواب کي د فبروری په (18) کا ل (2015) کی د **کلوروفلو کاربن** ( chlorofluocarbon = یو کیماوی ګازی ما ده دی ) د بیمی د شرکت له طرفه

دانګلستان استا ذی ته یو مقا له چی د ( Radio frequency =هغه بیموی شرکت چی د ګرځنده تیلیفونو د تشعشا توضررونه بیمه کوی ) پواسطه سره په نشر ورسید چی په هغه مقاله کی داسی توضیح ورکړ شوی دي :

( د الکترو مقنا طیسی د میدانونو څخه د بریښنایي مقناطیسی میدان څخه بهر ایستل (32 څخه بهر) د عامه بیمي څخه انحراف دی او د بازار په کچه د یو معیار په توګه کا رول کیږي. د دي له منځه وړلو هد ف دا دی چې د نا روغیو لپا ره پوشش لیري کړي چې د غیر تابشی غیر مستقیم ایونیایز شوی تا بش سره مخه کیږي او هغه هم د اوږدې مودې ګرځنده تلیفونونو کوم چی له مینځه وړل کیږی "

**- په لندن کې د سی ایف ایف اندیتیتیشن لینک، د لیوډ له پا ره د انګلستان استاذی ته** دغه پورتنی پښتو متن لاندی په دری ژبه هم ستا سو د مطا لعی د پاره وړاند کیږی:

(خروج از میدان الکترومغناطیسی (خروج 32) منحرف کردن بیمه عمومی ا ست و در سطح بازار به عنوان استاندارد استفاده می شود. هدف از این حذف این است که پوشش را برای بیماری هایی که ناشی از قرار گرفتن در معرض تابش غیر تابشی غیر مستقیم یونیزاسیون طولانی مد ت از طریق استفاده از تلفن همراه ا ست حذ ف کنند. "

**- CFC Underwriting LTD در لندن، عا مل انګلستان برای Lloyd's .......**
**له ویکی پیدیا څخه ).**

د لند ن د(لیود) د بیمی شرکت د ***سما رت*** د تلیفونو ، ***وی بی*** (WIFI) اود ***میترس*** ***سما رت*** د ګرځند نه تلیفونود برجونو دبی سیم د تولو بی ځا یه شویو خطرونو څخه پرته به د بیمی پیسی ورنکړی که چیری دغه ګرځندو تلیفونو څخه استفاده وشی .

## د(G5) ګریل شرکت د ما یکرو ویب تشعشا ت :

دغه د تجارتي بیمې نوي کولو پالیسي د بریښنایي مقنا طیسي ساحو په اړه د ځا نګړي مسؤلیت شرط شتون لري څکه چې دا د دي لپا ره چې د دعوې لپا ره کوم ډول جبران دخسا ره شا مل نه وي. لکه په لاند نی مواردو کې :

« چي په مستقیم یا غیر مستقیم ډول ، د بریښنا یی مقنا طیسي سا حو لخوا، یا د الیکرو مقنا طیسی وړانګی، بریښنا یی میېګتیزم (Electromagnetism) ، راډیویی امواج یا آوازونو له کبله رامینځ ته شي.» .

بیمه کونکي یا «بیمه ګذاران» دموجوده محدودیتونو دلا سپینوالی اویا دپوهیدوپا ره په رغنده ژبه غوښتنی ترسره کړل اود زیا ت وضا حت د پا ره وړاند یز وکړ چي په دی اړه دی زیا ت څیرنی وشي کوم چی په دی اړه د (CFC) په لاندی ډول توضیح شوی دي :

( د الکترو مقنا طیسی د میدانونو څخه د بریښنا یی مقنا طیسی میدان څخه بهر ایستل (32 څخه بهر) د عا مه بیمي څخه انحراف دی او د با زار په کچه د یو معیار په توګه کا رول کیږي. د دې له منځه وړلو هد ف دا دی چې د نا روغیو لپا ره پوښښ لیرې کړي چې د غیر تابشی (تشعشی) غیر مستقیم ایونیا یز شوی تا بش یا تشعش سره مخه کیږي او هغه هم د اوږدې مودې ګرځنده تلیفونونو سره تماس لرل کوم چې له مینځه وړل کیږی

هغه ټولې مهمې کلمې چې دلته کارول کیږي دلته روښانه دي: "په بازار کې ". ټولو لویو بیمه کوونکو د ا حتما لي خطر تحلیل کړی وه او چمتو نه وه چې صنعت له واردو ادعاګانو څخه چې دوړا نګی په معرض کی قرارلرل و سا تی یا له هغه څخه مخنیوی وکړي .

## دلته سیا سی سند داسی وایي :

**دلته د پالیسی سند وایي چې:**

" انحصار ( له « 6» پاڼی پیل شوې):

### مونږ به نه:

الف) د ستا سی دهرې ادعا لپا ره ستا سو په استازیتوب هر ډول تادیه وکړو یا پیسی ورکړو ، یا

ب) کوم لګښتونه چې تاسی هغه لګښتونه مو ورکړی دی ، یا

ج) تاسو چی د هر ډول زیان، نقصان، حقوقي مصارفو، فیسونو یا لګښتونو لپاره تاوان ورکړئ وی ، یا

d) د طبي لګښتونو پیسې مو ورکړئ وی.

(.32 د برقی مقناطیسي) Electromegnatic ) د عمومي بیمې د انحصار پالیسی دپاڼی په ( 7 ) مخ (: "په مستقیم یا غیر مستقیم ډول د رامنځته کیدو لامل کیږي، چې نتیجه یې د بریښنا یی مقنا طیسي برخو، بریښنا یی مقنا طیسي تشعشا ت، بریښنا ځپې، غږ یاآوازونه دی

په زړه پورې خبره دا په بر کې نیسي چي د بریښنا یی مقنا طیسي وړانګی د په کارولو شامل دي چې د سما رټ مترو (AMR، AMI، PLC) څخه، د کور په د ننه کی برقی شبکې او وسا یلو څخه (د توددولو په شمول)، د Wi-Fi لیږدونکو څخه ، په ښوونځیو، دفترونو او کورونو کې او د سپوږمکی څخه ثبت کول او د بېسیم تړل شوي الارمو څخه.

**لکه Deiselgate** : د (2015) کا ل په اوږدو کی د فولکس واګون د ا فتضاح

درسوا يي موضوع  پيل شو، يعنی هغه وخت  چی دامريکی دمتحده ايالاتو  د چا پيريال سا تنی اداره (Enviromental  protection  Agency “EPA”) اعلام کړ چی د پاکی هوا دملوث کيد  يوه عا مل  هم  د فولکس واګون څخه د لوګی د  راوتلو په تخنيک کی دفولکس  واګون د ماهرانو  له  طرفه  په قصد ی بڼی  سره   فسا د  ا و دوکه با زی ترسره شوی دی  او هغه داچی  دفولکس واګون په موټرونو کی  ډيزلی انجنونه  کوم چی په  هغو کی ګلخا نيی ګا زونه پکا ر وړل کيږی کارول شوی او دوی دغه انجنونه يواخي په لابراتور کی دکنترولی ازما يش  له نظره  کنترول يا چک کړی  دی چی ددغه تنظيم کړل شوی ا زما يښتونو په پا يله کی د فولکس واګون څخه د نايټروجن اوکسايډ(NOX) د ګا زخارجيد ل دامريکی په ستنا ندارد  سره  ښودلی دي    او  هغه څه چی دلته دتشويش وړ ښکاری  هغه دا دی چی ددی ډول فولکس واګونونو نه  کله چي پکا ر اچول شوی يا چالان شوی دی د بين المللی ستاندارد په پرتله سره (40)  ځلی زيا ت  (NOX) له خپل سلند رونو  څخه دباندی ايستلی دی  اوبلی خوا څخه دا ډول فولکس واګونونه  د(2009) تر(2015) کا لو نو پوری (15  مليونه ) واحد  مارکيټ ته عرضه کړی دي .

دنوموړی  موټرونو څخه ديوی علمی څيړنی  په ترڅ کی  داسی پايلی تر لاسه شوی چی  په زرګونو خلکو کوم چی خپل ژوند  سږکا ل  دلاسه ورکړی دی دهغو دمړنی يوه عامل هم دهمدی فولکس واګون له موټرونو څخه  په نقل  اوانتقا ل کی  رامينځ ته شوی يعنی هغو چی دغه ډول موټرونه چلولی دی .

له هغه ځايه يا له هغه وخته څخه  کوم  چی د ديزل ګيټ (Dieselgate)  تکنالوژی نورو ځا يونو يا د موټر جوړونی فا بريکو ته خپل  لمن پراخه  کړي  او  يولړ ستونزی هم رامينځته  کړی دی  دبيلګی په بڼه سره : دبريټا نيا د موټر يا دتيزرفتا ر جوړونی ګڼ شمير فابريکی  په يو څه محدود توګه سره  د  يوی واقعی بحران سره مخامخ شوی  دی او هغه داچی د دی صنعت د متنا قض تکنالوژی له کبله  په زرګونو کارګرانو خپل دندی دلاسه ورکړی دي چی دا پخبله دهيواد په سرتاسرکی  يوه لوی  ناورين را مينځته  کړی دی  چی بايد دهغه سره  دبيا له سره درغونی د پا ره هراړخيزه مبارزه  تر سره  شی نو دهمدی ستونزی په نظر کی نيولوسره مختلف بريټا نياوی موسسی  دهغه سره  په مختلفو برخو اوجبهو کی ( مالی ، دژوندد چاپيريال ساتنی او نظارتی هلی ځلی )  د دی  اوريني نا تا ر سره په جنګ  جګړه کی راښکيل شوی دی   چی د ا پخپله  داسی  را ښيی  چی د شرکتونو له خوا  په (غير قانونی)  توګه سره  کوم چی هغوی با يد  د دالرونو  څيښتن شی  دخلکو ژوند اودهغوی روغتيايي يی حالت دخطر سره مخامخ  شوی دي .

## خبرداری او د خطر زنګونه :

د  **بليک بيری** (Blackberry) ،  **ای ای** (EE) ، **نوکيا**  (Nokia)   او د  **ودفون** (Vodafon)  په ګډ ون دګرځنده  تيليفونو شرکتونه  په دی وروستيو کی پا ئګو اچونکو

ته خبر یا اطلاع ورکړی دي چې که چیری دعلمی څیړنې اود دتحقیق له مخې داسې ثا بت شی چی د تا سودغه محصولات (ګرځنده تیلیفونونه ) د سرطان د پیدا کید و عامل اوسبب دی یا داچی یو نامنا سب اړیکی دګرځنده تیلیفونونو اود روغتیا یی شرایطو ترمینځ کوم چی د سرطان د پیدا کیدو مسله دی اودغه موضوع را وڅیړی ، نو تا سی کولای شی چی د نوی روشونو یا تکتیکونو په نظر کی نیولو سره یولړ قا نونی کړنی ترسره کړی نو دا په ښه وی چی تا سی دبریتانیا دتلیکوم (British Telicom) چی هغه پخپله د (electrical engeneer) څښتن دی د هغه سره مشوره وکړی کوم چي هغه «تیلیکوم» دخپل پا نګی اچونی په اړه د کا ل (2017) په ګذارش کی داسی یادونه کړی وه :

« مونږ نشو کړلی چی تا سو ته مطلق او بشپړ ډاډ ورکړو اوهغه داچي په راتلونکی کي درادیویی امواجو اود روغتیایی سلامتیا د خطر د پیدا کیدو ترمینځ د اړیکی په اړه مخکی د مخکی څه ووایو یا داچی مونږ ووایو چی د دوی ( دګرځنده تیلیفونو او د اود سرطان د ناروغی ) ترمینځ اړیکی وجود لری ».

یا نور شرکتونه لکه د تمبا کو ، د دوا جوړونی ، ا زبیستوز(asbestos) او دیزل ګیټ ( Dieselgate) چی د خلکو د روغتیا یی حالاتو د شرایطو په نامساعد کولو کی رسوا شوی دی سره ددغه رسوایی بیاهم د هغو کا رګرانو ذهنونه کوم چی هغوی د دوی د محصولاتو څخه د خطرونو په پیدا کید و با ندی کره معلوما ت نه لری پخپل ګرمو اودوامدارو تبلیغا تو سره زهرجن او مسموم کوی.

د دی صنعت یا د ګرځنده تلیفونو ته خبرداری یا د خطر زنګ وهل ، د همدی کا ل دمی په میا شت کی **نیل فیلډ** (Niel Whitfield) انګلیسی د (۶۰) کا لو د عمر سړی له دی نه چی هغه د ګرځنده تیلیفون په استفادی سره پخپل مغز کی د ګلف د توپ په اندازه یو تومور پیداکړی وه نو هغه د همدی ګرځنده تیلیفون یوشرکت څخه چی هغه شرکت **نوکیا** وه دلمړی ځل د پا ره له هغه څخه شکایت وکړ چی د نومړی یوه غوړ دهمغه تومور له سببه کوڼ شوی وه .

پروسږ کا ل **رابرتو رومیو** (Roberto Romeo) د ا یتا لیا د ګرځنده تیلیفونو د سوداګری او یا د راکړی ورکړی اجراییوی مد یر د همدی ګرځنده تیلیفون له ډ یر پکا روړلو څخه پوره خسا ره مند شو اودهغه په مغزکي یوسلیم تومورجوړ کړ ، هغسی یوتومورچی دیو طبی کارپوه په وینا د ښاغلی **رابرتو رمیو**جسما نی فعا لیت ته تر (30) سلنه پوری نقصان ورسول.

په متحده ایالاتو همدا اوس (13) طبی پیښی یا واقعات دهمدی ګرځنده تیلیفونونو دزیات پکار وړلو څخه پیژندل شوی چی ددماغ په سرطان سره اخته دی اوتقریباً نور (46) واقعات چی په هغو کی د دماغ دسرطان دناروغی ګمان وکړل کیږی پیژندل شوی کوم چی ددغه لاندی شرکتونو له محصولاتو څخه کاراخیستی دی لکه :

[ موتورولا (Motorola) نوکیا (Nokia)، AT and T، بل انتلانتیک( Bell Atlantic) ، سیلولر ون (Cellular one) ، سینګولر ویرلیس ( cingular wirless) ، اس بی سی کمونیکیشن (SBC communication)، ویریزون (verizon) ، ودفون (vodafone) ، د مخابراتو د صنعت تولنه (TIA) یا (Telocommunication industry association)، (IEEE)، ANSI، CTIA ، او (FCC) څخه.]

په واقیعت کی ددری لسیزی په موده کی یواځی په متحده ایالاتو کي د نا روغی لسګونو واقعات ثبت اوراجستر شوی دی چی دګرځنده تیلیفونو دزیات پکار وړلو څخه په ماغزه کی تومورونه جوړ کړی دی ، په تیرو لسو کلونو کی د لاسی تیلیفونو په استعما ل سره د را پیدا شوی نا روغیو د وا قعا تو راجستر پیل شوی دي او زیا ت محکمی په تیره بیا په امریکا کي ددغه تیلیفونو له استعما ل څخه دشواهد و د نشتوا لی له امله په جوړ جاړی سره راغلی دي او په دی وروستیو وختونوکی دنوموړی تیلیفونونو څخه دراپیدا شوی ناروغیو مبتلا یا ن په محکمه کی ګتونکی هم ګڼل شوی دي.

په کا ل (2015) کی د (41) هیوادونو څخه (200) سا ینس پوها نو کوم چی د الکترومقنا طیسی د مید انونو تر معرض په بیولوژیکی سیستمونو باندی داغیزمنتیا په اړه دتخصص خاوندان دی دملګروملتونود روغتیا یی نړیوال سا زما ن ته یولاس لیک شوی غوښتن لیک وړاندی کړل کوم چي په هغه لیک کی د نوموړی سازما ن څخه غوښتل شوی چی تولو خلکو ته د تبلیغا تو له لاری توصیه وکړی چی د دی ګرځنده تیلیفونوڅخه زیات کاروانخلی اوخپل ځا ن ددغه تیلیفونوله تشعشا توڅخه خوندی وسا تي

د سپتمبر میا شت کا ل (2017) په (35) هیوادونو کی له (180) څخه زیا ت ساینس پوها نو داروپایی اتحا د یی څخه وغوښتل چی دبیا له سره د (G5) تکنا لوژی د ځیرلودتوقف مهلت ترهغه وختـه پوری اوږدکړی چی انسا ن ته دهغه د با لقوی خطراتو د پید اکیدو موضوع روښا نه اویا فلتر شی اودغه کارپوهانو ته دی پوره وخت ورکړی چي هغوی ددغه صنعت دناوړو اغیزو په برخه کی کوم چی د ژوند پر چا پیریال با ندی غورځوی د قیق بررسی کړی لکه هغسی چی معلوم شوی دغه کارپوها نو دا سی اشاره وکړل چی (G5) کله چی دالکترومقناطیسی دمیدا نونو په معرض کی راشی نوراد یویی (RF-EMF) د، G2,G3,G4,WI-Fi- د پاسه چی د مخا برا تی ارتبا طا تو دپا ره په اوس حال کی وجود لری په لوړه پیما نه سره زیا تیږي .

دغه له سره کتنه د ګا ز د لوړ اندا زی او د سما رت (هوشمند) الکتریکی میتر (electricity smart meters) جریان کوم چي په انګلستان کی د(G5) وسعت هم په نظرکی نیول شوی وه دانګلیس ددولت له سیاستوالو څخه هیڅوک ددی صنعت دسطحی دپه حال دزیاد خبرداری سره سره بیا هم پام وانوړول نو په دی صورت شاید چي تاسی په حیرانتیا کی واچوی چي پوه شی اوهغه داچی په کا ل (2005) څخه

انګلیسی نظامی عمومی طبی داکتران مسولو مقاماتو ته دا سپارښتنه یا توصیه کړی وه او هغه داچی دهر هغه چا چی دهغه عمر له (16) کالو څخه کم وی هغوی یواځی ددیر اشد ضرورت په وخت کی ددغه ګرځنده تلیفونو څخه د یو لنډی مودی یا وخت دپاره استفاده کولی شی اوبس - دغه توصیه لاتراوسه په خپل حال کی پاتی دی او هیڅ تغیر نه دی کړی .

-------------------------------- **په درنا وی** **(2018-11-15)**